پوهندوی آصف بهاند

# دوه شعارونه، دوه دریځونه

## «ښځه یا په کور یا په ګور»

## که

## «ښځه د نارینه د الوت یو زرین وزر»

مارچ اتمه

د ښځو نړیواله ورځ

په افغانستان غوندې نرواکې ټولنه کې د ښځو دریځ د نورې نړۍ د ښځو له دریځونو سره بیخي ډېر بدل او ډېر واټن سره لري. زموږ په ټولنه کې له نرواکیتوب سره ـ سره شته داسي نارینه ګان چي د ښځو د حقونو د دفاع کوي او پوره درناوی یې کوي.

داسي هم نه ده چي ټول نارینګان د ښځو حقونه تر پښو لاندې کوي او تل له میرمنو سره تاوتریخوالی کوي، داسي نظریات شته چي **«ښځه یا په کور یا په ګور»** ګڼي د ژوند په چارو کي تر هغو پورې ښځه کاروي چي سا په کي چلېږي او داسي نارینګان هم لرو چي **«ښځه د نارینه زرین وزر»** ګڼي او په ډېر درناوي سره په ګډه د ژوند چارې په مینه پرمخ بیایي، زه به دلته له دې دواړو شعاونو یا دواړو نظریاتو نه یوه ـ یوه بېلګه راواخلم چي دا بېلګې ښکاره افغان نارینه د ښځو پلوي او د ښځو ضد نظریات لري. زه دواړه نظرونه دلته رااخلم، قضاوت یې پر تاسو:

یوه فیسبوک کارن اقبال احمد په خپله پاڼه کي د **«ښځه یا په کور یا په ګور»** د شعار د پایلو یو جالب نظر خوندي کړی دی، وګورئ:

«ښځه!

بازار ته ځو ښځې لږ مرسته راسره وکړه

سمه ده سړیه

زرنج ته را پورته شه

سمه ده سړیه

دا لرګي راټول کړه

سمه ده سړیه

زرنج ته یې پورته کړه

سمه ده سړیه

ستړې شوې؟

نه سړیه

د زرنج شاته وخیژه

ځای نشته سړیه

ستا د پلار الوتکه کومه ده هله خیژه

سمه ده سړیه

لږ ځای خو راته پکې جوړ کړه سړیه؟

ځان ته یې خپله جوړ کړه کنه

سمه ده سړیه

لږ کرار ځه سړیه

لږه تږې شوم سړیه

کار خو ټول ما کړی بیغمه ناسته یې چپ شه کور کې به یې وښښې.

سمه ده سړیه

کور...

ښکته شه دروازه خلاصه کړه

سمه ده سړیه

لرګي راښکته کړه

سمه ده سړیه

ماته چای اوبه راوړه سمه ده سړیه

ډوډۍ راوړه

سمه ده سړیه

ویده کیږم غالمغال ونکړې

سمه ده سړیه

بیرون ووځه ماشومانو سره بلې خونې ته لاړه شه چې ستړی یم

سمه ده سړیه

ټک ټک ټک دروازه ده...

ورشه ښځې

سمه ده سړیه

څوک؟؟؟

د کلي د شورا رئیس یم، د کلي د نجونو ښوونځی پرانیستل شوی دی خپلې لوڼې دې ښوونځي کې داخل کړه.

اها... اوس دا بیغرتي راغله؟

زه پښتون، پلار مې پښتون غیرت لرم ایمان لرم اسلام لرم او اوس به دا...؟

نه نه نه کیږي ولاړ شئ!

ښځه: څوک و سړیه؟

پر تا اړه نلري غلې کینه

سمه ده سړیه

ناروغه یم سړیه

څه درشوي؟

اخر د اته میاشتو ماشوم لرم، ټوله ورځ مې درسره کار وکړ اوس مې په نس درد دی سړیه.
کرار کینه (ښځه د کور ده یا د ګور)

سمه ده سړیه



او یو بل چا بیا د **«ښځه د نارینه زرین وزر»** د شعار په پیروي داسې څه لیکلي دي:

«ښځه د نر زرین وزر

د نړۍ په ټولو موجوداتو کې ښایسته موجود ښځه، د ښځې زړه او د ښځې عاطفه ده، د ښځې زړه ډېر کلک او هم مهاله ډېر نازک دی، که د ښځې زړه د ډېر درد د زغملو توان لري نو ژر ماتیدلی هم شي.

د روان دور په دې ویرجن څپرکي کې ښځه هم هغه قشر دی چې له نر سره اوږه په اوږه درد زغمي، او تل یې پرې غږ کړی چې:

**په غم کې تانه کمه نه یم**
**لیونۍ نه یم چې به کلي خبرومه**

که ورور په سینه ټپ خوري، نو خور یې ژاړي او که خاوند یې له درده زګیروی کاږي، نو ښځه یې له سترګو اوښکې تویوي، که ښځه مور شي په پښو کې یې جنت وي او که خور شي نو بیا د ورور ارمان کوي او وایي:

**بې وروره خور په کلي راغله**
**اواز یې وکړو چې د چا کره به ځمه**

لور د پلار ارمان کاږي، خور د ورور او مور د زوي، په هر حال یې عظمت ته سلام په کار دی، د ښځې لپاره د هغې تر ټولو لویه شتمني د هغه سپیڅلی زړه، پلار، ورور او خاوند دي.

**که څوک خور نه لري نو خپر دی څه خبره نه ده**
**دا ډېره سخته وي چې ګنې خویندې ورور نه لري**

**یوه یتیم ماشوم په خواري خولګی داسې وویې**
**یوازې زه یم که به ټوله دنیا مور نه لري**

هو!
ښځه مور ده، ښځه خور ده او ښځه د دې ټولنې سمبالوونکې ده، دا که په یوه لاس زانګو زنګولی شي نو څه شک دی چې په بل لاس ټوله نړۍ زنګوي، د ښځې د خړې لوپټې له عظمته ټول خبر یاست، که تاریخ ته ځیر شو نو ښځې له نر سره اوږه په اوږه د جګړې میدان هم ګټلی او دا ټپه یې ورته ویلې:

**که په میوند کې شهید نه شوې**
**خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه**

له عمل سره په خوا کې د خبرو په میدان کې هم ښځې له سړو سره یوځای رواني دي او هڅه یې کړې چې سړی یوازې پرېنږدي، کله ناکله خو یې لوپټې ته شمله ورو هم د عظمت لاس پورته کړی او ورته یې ویلي:

**چې خبرې یې له کاره کمې نه دي**
**لوپټې مو له دستاره کمې نه دي**

ښځې خو تل له خپل ټول کمال جمال سره یوځای پر نر غږ کوي او وایي:

**ته که سر یې زه دې ساز یم**
**که انجام یې زه اغاز یم**

که غم راشي او که خفګان، که ولړه وي او که تنده خو دا یې په ډېره مېړانه تېروي، او په ډېر صداقت سره وایي چې:

**ته که یې سترګې نو نظر دې زه یم**
**کــه مبـتـدا یــې نـو خـبـر دې زه یم**

**او ستا د نازکو خیالو**
**زرین وزر دې زه یم**

